ژباړه : عبدالرحمن فرقاني ۲۰۱۰/۰٤/۲٤م

# داشغال له ديموكراسۍ نه د ديموكراسۍ تر اشغاله

*دزړونو او فكرونو اشغال. ديموكراسي او د امريكا بهرنۍ سياست.*
*د ديموكراسۍ وقفي وسايل.*
*ولې دا صندق ؟*
*پايله.*

ولې د امريكا متحده ايالات نن په افغانستان او منځني ختيځ كې د ديموكراسۍ شعار پورته كوي، ولې پخواني جمهور رئيس پر افغانستان باندې لومړۍ امريكايي حمله چې په كال ۲۰۰۱م د اكتوبر په اوومه پيل شوله د دايمي آزادۍ عمليات نوموي، او ولې جمهور رئيس جورج بوش په خپلو بيانيو او ويناگانو كې دا خبره تكراروي چې د افغانستان اشغال يوازې د ديموكراسۍ د ارزښتونو د پلي كولو لپاره تر سره كيږي، او ولې جمهور رئيس اوباما هم همدا پاليسي خپله كوى او د خپلو تيروشويو په پله پل ايږدي؟ "ولې امريكا د ديموكراسۍ خپرول غواړي؟ " او وروستى پوښتنه ديموكراسي په اشغال پورې څرنگه تړاولري؟ پهاسلامي او عربي نړۍ كې دا پوښتني د ډيرو خلكو په ذهن كې راتاويږي.

## دزړونو او فكرونو اشغال

كه د امپراتوريو د تاريخ پاڼې واړوو نو هيڅ يو داسې نړيوال قوت به پيدا نكړو چې د خپلو ځواكونو معنويات يې په روحي او نظامي شعارونو باندې نه وي لوړ كړي او په عين وخت كې يې د خپلو دښمنانو په زړونو د مقاومت اراده نه وي ځپلې. د جنگونو په تاريخ كې چنگيز خان د بې منطقۍ اتل گڼل شوى دى، او دزماني لوبځاي تر ده بل وحشتناكه شخصيت ندي پيژندلى، د انساني تمدن او پرمختگ پر ضد يې خپل د وحشت نه ډک جنگونه پدې تبريرول چې گواكې دا دالله تعالى د ارادې تمثيلول دي، او خپل اوامر به يې پدې عبارت ختمول (منجو تنجري جوكندور) چه معنى يې دا ده "دا د الله تعالى د ارادې تمثيلولو دي".

د سياسي اهدافو او اقتصادي مصلحتونو او استراتيژيكو موخو د لاسته راوړنو لپاره نن ځيني اصطلاحات استعماليږي او په پاى كې د نورو په كارونو كې د مداخلت لپاره استعماليږي، او دخپلو لاسته راوړنو لپاره برلاسي هيوادونه خپلو دښمنېزه پلانونو ته د اخلاقي اصطلاحاتو پوښونه وركوي ترڅو وكولى شي فكرونو ته لاره پيدا كړي، زړونه اشغال كړي، دوجود اطراف شل كړي، ضميرونه ذليل كړي، روح ناپاكه كړي او وجدانونه مړه كړي.

لنډ پرون لويديځ راغي ترڅو د استعمار اصطلاح چې د رغوني او پرمختگ پر مدلول دلالت كوي پربيوزله ولسونو باندې د تسلط او دهغوي د ثروتونود غارتولو لپاره استعمال كړي، چې د دې تگلارې په پايله كې د استعمار قرآني ټكي بد مفهوم ته واړول شو اود وژنې، غارت، برلاسي او اشغال معنى يې خپله كړه.

كه ديموكراسي د انساني تمدن او پرمختگ توليد دى او ددې لپاره يې ځان ورته رسولى دې ترڅو په خپله پر ځان حكومت وكړي او دحكومت كولو اړوند استبدادي دولونه له منځه يوسي، خو نن له هغو سياسي اصطلاحاتو ځني شميرل كيږي چې تر ټولو ډيره د تحريف او تشويه سره مخ ده آن تر دې چې اشغال او ديموكراسي ديوې سكې دوه مخونه گرځيدلي.

## ديموكراسي او د امريكا بهرنۍ سياست

د امريكا سياسي شخصيتونه د جمهوريخواهانو او ديمكراتانو په گوندونو كې سره لدې چې په ځيني مسايلو كې سره اختلاف لري خو پدې سره متفق دي چې په دريمه نړۍ كې د خپلو پلانونو د پلي كولواود برلاسي توب لپاره د ديموكراسۍ رواجول پلمه كړي چې په مقدمه كې يې اسلامي نړۍ او دمنځني ختيځ هيوادونه دي، ځكه چې د ديموكراسۍ شعار د لويديځ ولسونه په داخل كې تير ايستلي شي او د ولسونو په نظر كې اشغال تبريروي، همدا رنگه د اشغال قوتونه كولى شي لدې لارې د خلكو زړونو او فكرونو ته ورسيږي.

په كال ۱۹۷۰ م كې په كانگرس كې د ديموكراسۍ گروپ وكولي شول چې د بهرنيو چارو د وزارت په چوكاټ كې د ديموكراسۍ او دبشر دحقوقو دفترپرانيزي، همدا راز پخواني ديموكرات جمهور رئيس جيمي كارتر هم د خپل بهرني سياست لپاره د ديموكراسۍ خپرول يوه مرسته وگڼله.

لدې وروسته جمهور رئيس رونالد ريگان راغي او د ديموكراسۍ لپاره يې دوقف ملي صندق تاسيس كړ، تر څو د بهرني سياست پر منگلو د وريښمين دستماغي رول ولوبوي، لدې وروسته جمهور رئيس كلنتن راغي اود ديموكراسي خپرول يې د امريكا د پراختيا د استراتيژۍ له څلورواهدافو څخه دنړۍ په كچه وټاكه، او رئيس جورج بوش خو د دې اصطلاح په استعمال كې اسراف وكړ، په كال ۲۰۰۵ م د خپلې دويمې دورې په افتتاحيه وينا كې اعلان وكړ: د



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينگه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بني پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له رالیږلو مخكې په خير و لولئ

امریکا د متحده ایالاتو د څمکي پر مخ د آزادئ پاتي کیدل په ژوره توګه د څمکي د سیارې د نورو برخو د آزدئ له مصیر سره تړلي دئ، او زموږ په نړئ کې د سولې لپاره تر ټولو ښه هیله د آزادئ خپرول په ټوله نړئ کې دي. د دې حقیقت په اساس امریکا په هر هیواد او هرکلتورکي د دیموکراتیکو حرکتونو او مؤسسو سره مرسته کوي، او زموږ وروستئ هدف دا دی ترڅو استبداد له خپلي نړئ نه ورک کړو (بوش۲۰/۱/۲۰۰۵) م اولدې وروسته دیموکرات جمهور رئیس اوباما راغي او اداري يې د بهرنیو چارو وزارت په ممبر او په خپله رسمي پانه کې اعلان وکړ چي په نړئ کې د دیموکراسئ خپرول د امریکا د بهرني سیاست له اساسي بنسټونو څخه دی.

## د دیموکراسئ وقفي وسایل

دامریکاحکومت یوازي د حکومتي او رسمي مؤسسو له لارې د دیموکراسئ په خپرولو کفایت ونه کړ بلکه خصوصي مؤسسي يې جوړې کړې چي په خپلو کارونو کې د خپلواکئ داوه کوي او هغه نړیوالي دندي تر سره کوي چي د امریکا رسمي او دیپلماتیکي اداري يې نشي تر سره کولای، او هغه مؤسسي چي پدې هکله مشهورې شوې دی هغه : نړیوال جمهوري انستیوت، د دیموکراسئ ملي انستیوت، د صناعتي مؤسسو کنفرانس، او دنړیوالو خاصو پروژو مرکز، او د دیموکراسئ لپاره د وقف ملي صندق، او دا وروستئ تر ټولو ډیره مشهوره مؤسسه ده.
د دیموکراسئ لپاره د وقف ملي صندق خصوصي مؤسسه ده چي په کال ۱۹۸۳م کې دکانګرس د پرمان په اساس تاسیس شوه، دا هغه دستګاه ده چي دعامي خارني تر بندیزونو لاندی نده. او فرانسوي ژورنالست تیري میسان پدې عقیده دي چي د دې مؤسسه غړي د امریکا د استخباراتو د شبکې پخواني غړي دي. او دا مؤسسه یو کال له تاسیس نه وروسته په هغو فعالیتونو کې ورګډه شوه چي افغنستان ته متوجي وو دا هغه مهال چي سره جګړه ډیره تنده وه.
په کالفورنیا کې د سنتا بار بارا په پوهنتون کې د ټولنیزو علومو یو نیکاراګوایي الاصل امریکایي استاذ وایي : دا مؤسسي په ټوله نړئ کې اکثرا پیسي د ټاکنو د پایلو په تزور او دنظامي انقلابونوترسره کولو لپاره مصرفوي او دا هر څه د دیموکراسئ د خپرولو د پلمه په اساس تر سره کیږي. او په وینزویلا کې د څنینو وینزویلایي مؤسسو د نظرپه اساس، د دیموکراسئ لپاره د وقف ملي صندق په وینزویلا او هایتي کې د خصوصي مؤسسو سره مرسته وکړه تر څو د شافیز او ارستید پر ضد انقلاب تر سره کړي، د یادوني وړ ده چي د دیموکراسئ لپاره دغه د وقف ملي صندوق په کال ۲۰۰۴م کې خپله بودیجه په افغانستان او عراق کې د دیموکراسئ د پروژو دتمویل لپاره دوه برابره کړله.

## ولي دا صندق ؟

د واشنګټن پوست ورځپاڼي په هغه ګڼه کې چي په ۱۴/۳/۱۹۸۲م خپره شوي ده د امریکا د استخباراتو پخواني مسؤل ولیم کولبي یو ځل ددیموکراسئ دترویج لپاره د ملي صندق د فعالیتونو اړوند دا خبره په ډاګه کړه چي "هغه څه چي پخوا موږ په پټه توګه ترسره کول اوس د دې موسسې له لارې هغه په ښکاره ډول تر سره کولای شو". " او آلن وینشتاین په کال ۱۹۹۱م کې چي د دیموکراسئ د خپرولو د ملي صندق څارونکئ دی اعلان وکړ نن دیر داسي څه موږ تر سره کوو چي ۲۵ کاله وړاندي د استخباراتو د شبکې دنده ګڼل کیده".
د دیموکراسئ لپاره د ملي صندق رئیس کارل جرشمن په یوه خبري ناسته کې چي ۲۹/۸/۱۹۸۶م ترسره شوه په روښانه ډول داسي څرګندونه وکړه : د تمدن او پرمختګ او دمعلوماتو په عصر کې ممکنه نده چي یوازې د نظامي قوت له لارې ثبات، استقرار، امن او ملي مصلحت تر لاسه کړو بلکه په تشویق او ترغیب چي پدې زمانه کې مؤثر رول لري او پکار ده چي د نورو خلکو فکرونو او ارادو ته د رسیدلو لپاره خپل قدرتونه پیاوړي کړو .. پکار ده چي په نړئ کې د دیموکراسئ د خپرولو شعار زموږ د مهارتونو بنسټ وي.
دبهرنیو چارو په وزارت کې د پلان ګذارئ او پروګرام اینودلو د دفتر نایبه بار بارا هیج کانګرس ته په یوه ناسته کې چي په ۱۹/۱۱/۲۰۰۳م تر سره شوه وویل : " د دیموکراسئ لپاره دوقف ملي صندق هغه افکار، ارزښتونه او دوډونه پیاوړي کوي چي په افغانستان کې د بازار دیموکراسئ تضمین کړئ شي – د امریکایي برلاسي توب لپاره په نړئ کې نن دوې پالیسي دي یوه دیموکراسي او بله د آزاد بازار سیاست، او د بازار دیموکراسي په افغانستان کې هم د دې مفهوم په رڼا کې څرګندیدلي شي ـ او اضافه يې کړله : زموږ موخه د هغو ګروپونو سره مرسته کول دي چي مالومات نقل کړئ شي او د ښو خلکو سره پیژندګلونه پیدا کړي!

## پایله

موږ نشو کولی چي د امریکا په بهرني سیاست باندې یوازي د رسمي څرګندونوله لارې چي د سپیني ماڼی او د بهرنیو چارو له وزارت نه صادریږي څان پوه کړو، خو د امریکا د بهرني سیاست د پوهیدو لپاره اساس دا دی چي موږ هغه څه وګورو چي امریکایان يې په عملي توګه تر سره کوي نه دا چي د دوي خبرو ته غوږ کیږدو. د امریکا دبهرنیو چارو په وزارت کې د پلان ګذارئ د دفتر پخوانی رئیس جورج کنان وایي: د امریکا په بهرني سیاست کې دیموکراسئ د حقیقي مفهوم په اساس یوه ورځ هم کوم ارزښت نه درلود.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

په لاتيني امريکا کې د ديموکراسۍ انقلاب دکتاب مؤلف هاورد ويراد وايي : " د ديموکراسۍ ژبه د يوه پله په څير استعماليږي چې زموږ د استراتيژيکو مصلحتونو او امنيتي انديښنو تر منځ رابطه جوړوي ... دديموکراسۍ دخپرولو اجنډا يوازي يوه سرپوښ دی چې موږ کولي شو خپل استراتيژيک اهداف ترې لاندې پټ کړو" .

ديموکراسي او اشغال دوه ضدونه دی چې نه سره يو ځای کيږي لکه خير او شر لکه رڼا او تياره نو دا دوه متناقض بنسټونه نشي يو ځای کيدلی. ديموکراسي هغه بنسټ دی چې د ارادې آزادي پکښې راښکاره کيږي، چيرته چې اشغال دا آزادي کلابندوي. ممکنه نده چې ديموکراسي د ولسونو په ذليلولو او سپکولو او دولسونو د ارادې په سلبولو پلې شي.

د امريکا متحده ايالات غواړي خپلو استراتيژيکو اهدافو ته د ديموکراسۍ د خپرولو دشعار په ذريعه چې دير جذاب شعار دی ځان په کم لګښت او لنډه لاره ورسوي. نړۍ نن ديوه بل ډول جنګ سره مخ ده، داسي جنګ چې پکښې د ولسونو د زړونو او فکرونو اشغال د ځمکې د اشغال لپاره اساسي ګام ګڼل کيږي.

دا ديموکراسي چې امريکا په سيمه کې ورنه خبري کوي او په نړۍ کې يې د خپرولو لپاره هڅه کوي دا دمداخلت او داشغال دپروژې يوه داسي برخه ده چې د بې ۵۲ الوتکو او توماهوک توغونديو څخه زياته نړونکې وسيله ده.

د ديموکراسۍ د خپرولو بنيادي موخه دا ده تر څو داسي نوي سياسي شخصيتونه پيدا شي چې د خپلو امتونو له تمدن او فرهنګ نه پردي وي او دوی ته حکومتونه په سيمه کې وسپارل شي، او داسي رسنيۍ ايجاد شي چې همدوی ته ډول ووهي او ولسونه دې ته تيارکړي ترڅو د دوی د چپني تر سيورې لاندی ټول شي، او يوه طفيلي طبقه پيدا شي، او يوه مؤدبه او بلده مدني ټولنه جوړه شې! او په پای کې کلتوري ټولنې او سياسي احزاب او ميرمنيزې مؤسسې جوړې شي چې مسؤليت يې د ديموکراسۍ په تمثلي پارچه کې د ديکور يشن نه پرته بل څه نوې.

دا ممکنه ده چې د ديموکراسۍ د خپرولو شعار د اشغال دمشروعيت لپاره او د هغه نظام لپاره چې ددې اشغال په پايله کې منځ ته راځي د يوه پوښ په څير استعمال شي، همدا راز کيدلای شي چې د حاکم نظام پر ضد د حقيقي او رښتيني مقاومت مخنيوی وکړی. اود ديموکراسۍ شعار کيدلای شي چې په نړيوال اقتصادي نظام کې د ورګډيدو لاره اواره کړي او په نړيوال راسمالي نظام کې ټول ذوب شي.

نو آيا د نړۍ آزاد خلک به د اشغال د ديموکراسۍ حقيقت په ډاګه کړای شې، اود اشغال نه به ديموکراسۍ ته نجات ورکړاي شي، څرنګه چې دوي د خپلو ځمکو د آزادۍ لپاره زيار باسي؟

په الجزيره نت کې د بشير انصاري ليکنه

پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ